د سلام نړیوال علمي ژورنال
Salam International Academic Journal
*Journal Homepage:* https://journal.salam.edu.af
لسم کال، شمیره ۱۷، پسرلی، کال ۱۴۰۴هـ ش

# په پاکستان کې د افغان کډوالو اوسنۍ وضعیت؛ ننګونې او حللارې

څېړنوال عبدالصبور مبارز[1]

DOI: 10.64104/v10.Issue.17.n4.2025

ISSN: 3078-9575 (Print) ISSN: 3078-9583 (Online)
تاریخ نشر: ۱۴۰۴/۰۵/۰۸ تعداد صفحات: ۲۳ از صفحه ۵۳ تا ۷۵

## لنډیز

افغانستان په نړۍ کې څلورم هېواد دی چې زیات وګړي یې کډوال شوي دي. د افغانانو د کډوالۍ ستر لامل جګړه او اقتصادي ستونزې دي. پاکستان ته د افغانانو د کډوالۍ بهیر په ۱۹۷۹ز.کال کې هغه مهال پیل شو کله چې شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ. د دې څېړنې موخه په پاکستان کې د افغان کډوالو د وضعیت څېړل، ننګونې یې رابرسېره کول او هغې ته د حللارو وړاندې کول دي. د څېړنې بنسټیزه پوښتنه دا ده چې په پاکستان کې د افغان کډوالو وضعیت څنګه دی؟ او په دې برخه کې کومې ننګونې موجودې دي؟ د څېړنې موندنې ښايي چې په اتیایمو کالونو کې په پاکستان کې د افغان کډوالو وضعیت ښه و، خو له نویمو کالونو راورسته تر اوسمهال پورې په دغه هېواد کې د افغان کډوالو سره ښه وضعیت نه کېږي او افغان کډوال په دغه هېواد کې له امنیتي، تعلیمي، اقتصادي، تخنیکي او ګڼو نورو ننګونو سره مخامخ دي. په دې څېړنه کې د څېړنې له تشریحي-تحلیلي مېتود او کتابتوني تګلارې څخه ګټه اخیستل شوې ده.

**کلیدي کلمې: افغان کډوال، پاکستان، مهاجرت، جګړه، اقتصاد، ننګونې، حللارې.**

---

[1]. د افغانستان د علومو اکاډمي د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز علمي غړی دی. 0093788490472، ab.Saboor405@gmail.com

The use of the journal's articles is permitted provided that the author's name and the source are properly cited.
استفاده از مقالات مجله با ذکر نام و مصدر مجاز می باشد